بسم الله الرحمن الرحيم

**خبر او تبصره**

# ایا ناټو رښتیا ړنګه شوې؟

## خبر

په دې وروستیو کې د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون اقتصادپوهانو ته یوه مهمه وینا وکړه. هغه پر دغې خبرې ټینګار وکړ: «موږ اوس د ناټو له منځه تلل وینو.» سربېره پردې نوموړي د اوسني وضعیت اصلي لامل د امریکا لخوا د اروپا یوازې پرېښودل وبلل. له دغه حالت څخه ښکاري، چې ایا ناټو به په راتلونکي کې پاتې شي، که نه.

**تبصره:**

مکرون په خپله دفاع کې د ټرمپ ولسمشرۍ ته په مستقیم ډول اشاره کولی شي، چې د ناټو د له منځه تلو اصلي لامل دی. ټرمپ په وار وار د ناټو غړو ته ویلي چې یا پیسې پیداکړئ او یا به له ناوړه پایلو سره مخ شئ. ټرمپ په ډېرې بې پروایۍ سره د پوټین کړنې وغندلې، که څه هم چې په اوکراین او ځینو نوراروپایي هېوادونو کې یې د روسیې لاسوهنې ته اشاره ونه کړه. ټرمپ وروسته اردوغان ته شین چراغ ورکړ، چې په سوریه کې امن سیمه رامنځته کړي او د ناټو د متحدینو رول ولوبوي، خو سپینې ماڼۍ له مهمو متحدینو لکه بریتانیا او فرانسې سره مشوره ونه کړه. .

د ناټو ملاتړي هېوادونه به ادعا وکړي، چې فرانسې تل د ناټو پر وړاندې سخت دریځ او د امریکا له څارنې سره یې کلک مخالفت درلود. وروسته له هغې چې چارلس دوګول ۴۳ کاله وړاندې په ناټو کې د امریکا مشري منلې وه، په ۲۰۰۹م کې هغه سرې اړیکې د سرکوزي د ولسمشرۍ پر مهال بیخي پرې شوې.

د نړۍ په کچه د اروپا او ناټو په رول کې د امریکا د مداخلې تشویش نوې خبره نه ده. په ۱۹۹۱م کال کې د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته ډېرو اروپایي هېوادونو له امریکا څخه تمه درلوده، چې د ناټو ماموریت پراخ کړي. ناټو په ۱۹۴۸م کې د امریکا له خوا په دې موخه جوړه شوه چې د المان پوځي قدرت راچپه کړي، لوېدیځې اروپا ته د شوروي اتحاد د مختنه تګ مخه ونیسي او د اروپا د امنیت کنټرول بیا لاسته راوړي.

دغه سیاست امریکا ته زمینه برابره کړه چې د نړۍ لومړی غیر اسیا-اروپایي قدرت شي او پر اسیا-اروپا باندې ډېر کنټرول ولري. د شوروي اتحاد له منځه تلو څخه لږ وروسته امریکا د ناټو ماموریت له دفاعي حالت څخه تهاجمي حالت ته واړاوه، له ناټو څخه په استفادې یې د اروپا امنیتي جوړښت پراخ کړ، ختیځه اروپا یې پکې راګډه کړه او په دې توګه یې د روسیې قلمرو کم کړ.

څکه نو پر دې باور سخت دی چې امریکا دې ناټو پرېږدي او شاته تګ دې وکړي. امریکا دغه قمار ته ډېرې پیسې اېښې. د دې تر څنګ اروپا به ونشي کولای چې په ډېر نږدې راتلونکي کې د امریکا ځای ونیسي او خپل امنیت پخپله تېینګ کړي. د ستراتیژیکو مطالعاتو د نړیوال سازمان د اټکل له مخې که اروپا د ناټو په شان د امنیت یو جوړښت رامنځته کوي، نو ۳۴۷ بیلیونه ډالرو او شلو کلونو وخت ته اړتیا لري.

پخوانۍ اروپا ډېر له مخکې پر اروپایي امنیت باندې د امریکا له کنټرول څخه د ناټو تر چوکاټ لاندې ځورېدله. مکرون د دغه ډول احساساتو افشا کوونکی و او له دې څخه یې وېره هم نه درلوده چې په عام محضر کې یې بیان کړي. خو مېرکل – چې له امریکا سره د اوږدې سوداګریزې جګړې مخه نیول غواړي- په خپلو خبرو کې ډېر پام کوي. دې په تېزۍ سره د مکرون د خبرو په اړه بې اعتنایي وښوده، که څه هم نوموړې پخوا له ناټو او په ټوله کې د اروپا له امنیت سره د امریکا د دوه‌ګوني چلند په اړه همدا اندېښنې ښودلې وې.

ټرمپ د اروپا ړنګېدل غواړي خو د ناټو نه. امریکا غواړي دا سازمان وساتي چې اروپایي هېوادونه خوندي وي او د روسیې لاس ته ونه لوېږي.

یوه خبره باوري ده. د امریکا او اروپا له اقیانوس اخوا اړیکې – چې یو وخت د پر نړۍ د امریکا د راج د اساس ډبره وه- خرابې شوې او لېرې ده چې په راتلونکو کلونو کې دې پاتې شي. دا به د امریکا غیر اروپایي سیالانو (روسیې او چین) ته دا موکه برابري کړي چې د امریکا ځای ونیسي (امریکا باید د شاته تګ پرېکړه وکړي) او په اروپایي لوبه وچه کې د یوه بهرني تعادل ساتونکي رول ولوبوي. یوازینی غیر اروپایي دولت چې دا رول یې درلود، په شپاړسمه پېړۍ کې عثماني خلافت و.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## لیکوال: عبدالمجید بټ